education above all
التعليم فوق الجميع

## خپل طنزي کتاب ډیزاین کړئ (۲ سطحه)

| | |
|---|---|
| **توضیحات** | زده کوونکي به خپل طنزي کتاب یا لنډه توضیحي کیسه ډیزاین کړي او د خبر د برخو په اړه به زده کړه وکړي. |
| **مخکېنه پوهښتنه** | آیا تاسو کولی شئ خپل طنزي کتاب ډیزاین کړئ؟ |
| **ټول هغه وخت چې لازم دی** | په ټوله کې درې ساعته په دریو ورځو کې. |
| اړین توکي | ورقه یا کتابچه، قلم یا پنسل او رنګه قلمونه (اختیاري) |
| د زده کړې پایله | 1. ۱ـ سواد: لوستل او لیکل<br>2. ۲ـ ګرامر: د خبرو برخې – نومونه، صفتونه، فعلونه<br>3. ۳ـ ریاضیات: تقسیم او |
| پخوانۍ زده کړې: | ۱ـ د انګلیسي سواد او ګرامر<br>۲ـ د ریاضۍ ساده عملیې (دوهم ټولګی) |

## لومړۍ ورځ

نن به تاسو د خپل طنزي کتاب جوړولو په اړه زده کړه وکړئ!

وړاندیز شوې موده: فعالیت او توضیحات

**۵ دقیقې**

پیژنده: زده کوونکی به خپل طنزی کتاب ډیزاین کړي او یا به هم لنډه کیسه تشریح کړي!

یو طنزي کتاب یا لنډه کیسه موږ ته د یوه کرکټر یا د کرکټرانو د یو ګروپ کیسه موږ ته د ډایلوګ (خبرو اترو) او یا رسامۍ له طریقه بیانوي.

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

کرکټرونه: ستاسو د کیسې اصلي کرکټرونه یا اتلان څوک دي؟ تاسو کولی شئ چې خپل اتل اصلی کرکټر وټاکئ. په اړه يې فکر وکړئ چې دوی کوم زبرځواکونه لري؟ کومو لاملونو او موضوع ګانو ته پاملرنه کوي؟ کېدای شي چې داسې شی وي چې یا ستاسو په هېواد کې وي او یا هم په نړۍ کې.

دسیسه: ستاسو په کیسه کې کرکټر ته څه پېښېږي؟ کیسه څنګه پیل او پای ته رسېږي؟



پیغام: موږ غواړو چې لوستونکي ته څه پیغام ورسوو؟ بېلګې: مهرباني، پاکوالی، د چاپېریال څخه پالنه او داسې نور. د هغه موضوع یا مسئلې په اړه فکر وکړئ چې تاسو ورته پام کوئ.


انځورونه: څنګه کولی شئ چې د انځورونو له طریقه کرکټرونه او کیسه وړاندې کړئ؟ طنزي کتاب په چوکاټ کې درته ښودل شوی (١ضمیمه صفحه وګورئ). فکر وکړئ چې تاسو به دا اتل څنګه ډیزاین کوئ که چېرته یې د یو کرکټر په توګه ټاکئ. هغوی به کوم زبرځواکونه ولري؟

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

**۳۰دقیقې**

او یا هم د یو بل ډول اصلي کرکټر د ډیزاین کولو لپاره

سرچینه




زده کوونکی به د اصلي کرکټر یا اتل په ډیزاین کولو باندې یو څه موده تېره کړي او د ساده کلمو او جملو په کارولو سره به یې تشریح کړي. زده کوونکی کولی شي چې خپل ځان د اتل یا اتلې په توګه وټاکي او یا هم د ښارویو په ګډون واقعي او یا هم جعلي کس وټاکي.

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

https://inclusiveschools.org/champions-of-inclusion-isw-minilessons/

۱۰ دقیقې: زده کوونکی به هغه طنزي اتل یا اتله چې کار یې پرې کړی، د خپلو والدینو او یا هم د کورنۍ د غړو سره شریک کړي او د لا پرمختګ لپاره به د دوی څخه فیډبک او وړاندیزونه تر لاسه کړي. زده کوونکی به بیا په نوي ډیزاین کې ورکړل شوی فیډبک شامل کړي.

## دوهمه ورځ

نن به دا زده کړئ چې څنګه یوه کیسه را منځ ته کړئ.

وړاندیز شوې موده: فعالیت او توضیحات

**۲۰-۱۵ دقیقې**

نن به زده کوونکی په دې پوه شي چې یوه کیسه څنګه رامنځ ته کیږي او د خبرو اجزاوې به هم زده کړي. لومړی، زده کوونکی کولی چې خپل انګلیسي کتاب یا ورځپاڼو ته وګوري. د مثال په ډول، کیسي او یا طنزي ټوټې او یا هم د ماخذ لپاره ۱ ضمیمې ته وګورئ. زده کوونکی به دا طنزي ټوټې یا لنډې کیسې ولولي.

**۳۰ دقیقې**

زده کوونکی به د هغې کیسې په اړه فکر وکړي چې لوستې یې ده او لاندې
ځیزونه به په یوه کتابچه او یا هم په یوه ورقه کې بشپړ کړي.

- د لومړي کرکټر نوم
- د دوهم کرکټر نوم:
- د درېیم کرکټر نوم:
- د نورو کرکټرانو نومونه:
- اصلي کرکټر:
- د کیسې دسیسه: کیسه څنګه پیل کېږي؟ لومړی صحنه یې تشریح کړئ؟ په کرکټر نور څه کېږي؟ تاسو څه شي حیران کړئ؟ او کیسه څنګه پای ته رسېږي؟

**۱۰-۱۵ دقیقې**

- د خبرو اجزاوې: زده کوونکی به په کیسه کې نومونه، فعلونه او صفتونه وکاروي.
- نوم هغه کلمه ده چې د خلکو، ځایونو او یا ځیزونو د نومولو لپاره کارول کېږي او داسې نور.
- صفتونو هغه کلمې دې چې نومونه تشریح کوي لکه ښه، یخ، خواږه، لوی او آبي.
- فعل موږ ته عمل را ښيي او یا هم هغه فعالیت چې ترسره شوی وي لکه ډرېوری کول، منډې وهل.

۳

- ۲ ضمیمې ته لاړ شئ. له زده کونکي څخه وپوښتئ چې نوم، فعل او صفت په دې جملو کې معلوم کړئ او په لاندې جدول کې یې داخل کړئ.
  1. آدم پلورنځي ته منډه وکړه
  2. هغه په خپل اطاق کې ویده ده
  3. جاپان یو ښایسته هېواد دی
  4. زما د پیشو خوښېږي چې له خپلي نویو د لوبو سامان سره لوبې وکړي.

EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| فعل | صفت | اسم |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |

که چېرته په پورتنيو جملو کې د دوی ښودنه ورته سخته وي، والدين يا استاد کولی شي د زده کوونکو سره د اسمونو، فعلونو او صفتونو په ګوته کولو کې مرسته وکړي.

د کيسي د ارزوني لپاره معيارونه:

- دغه کتاب بايد لږ تر لږه درې صفحې اوږد وي. چوکاټونه هر اندازه کېدای شي، مګر بايد هندسي شکلونه ولري لکه مستطيلي يا حتی مثلثي چوکاټونه -- تخليقي واوسئ.
- زده کوونکی بايد داسې يو کيسه جوړه کړي چې پيل، پای او يو پيغام ولري.
- زده کوونکی بايد لږ تر لږه ۶ فعلونه او ۴ صفتونه په کيسه کې وکاروي. زده کوونکی بايد کيسه په پای کې بيان کړي.
- زده کوونکی بايد صفتونه په آبي او فعلونه په سور رنګ سره په طنزي ټوټه يا کيسه کې وښيي.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## دریمه ورځ

نن ورځ به تاسو د طنزی کتاب لپاره دسیسه جوړه کړئ.

| وړاندیز شوې موده: | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| **۵ دقیقې** | زده کوونکی کولی شي چې د کیسې د مفکورې او هغه پیغام په اړه فکر وکړي چې هغه یې غواړي لوستونکو ته یې واستوي. کیسه کېدای شي چې داسي څه وي چې دوی تجربه کړي وي او یا هم یوازې د دوی په تصور ولاړ وي. زده کوونکي به د کیسې په وده کې د هغه اتل یا اتلې څخه کار واخلي چې دوی په لومړۍ ورځ ټاکلي ده. |
| **۳۰-۶۰ دقیقه** | زده کوونکی به د ساده جملو په کارولو سره خپله کیسه ولیکي. د مثال په ډول کله چې اتل یا اتله له خوبه پاڅېده، کور یې اور اخیستي و او هغه باید خپل کور ژغورلی وای... ( د هغه کیسې په اساس چې زده کوونکی یې غواړه جوړه کړي).<br><br>زده کوونکي باید د کیسې په جوړولو کې د اسمونو، صفتونو او فعلونو کارونه په کیسه کې حتمي کړي. |
| • د ریاضی د پراخوالي کړنه<br>**۱۰ دقیقې** | - محاسبه وکړئ که چېرته تاسو یو طنزي کتاب چې څلور مخونه او ۲۰ چوکاټونه ولري ډیزاین کړئ، تاسو به په یوه صفحه کې څومره چوکاټونه ځای پر ځای کولی شي. اشاره: د تقسیم څخه په استفاده ځواب پیدا کړئ. |

- زده کوونکی به جوړه شوې کیسه د خپلو والدینو او یا کورنی سره شریکه کړي او د لا پرمختګ لپاره به فیډبک او وړاندیز تر لاسه کړي. زده کوونکي به د فیډبک څخه په ګټه اخیستنې خپلې کیسې ته وده ورکړي.

## څلورمه ورځ



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

نن ورځ به تاسو خپل طنزي کتاب په ۳ ضمیمه کې د قالب څخه په استفاده ډیزان او تشریح کړئ او یا یې هم خپله ډیزاین کړئ.

وړاندیز شوي موده: فعالیت او توضیحات

---

**۳۰-۶۰ دقیقې**

زده کوونکی به لومړی چوکاټ په اول عدد او نور به په نورو عددونو سره په نښه کړي.

- چوکاټ په هره اندازه کېدای شي، خو باید هندسي وي (لکه مستطیلي یا حتی مثلثي چوکاټونه وي -- تخلیقي واوسئ.

---

- په دا ډول چوکاټونو کې باید زده کوونکی لاندې ځیزونه اضافه کړي:

- د روایت متن که د تطبیق وړ وي (هغه چې دا انځور یا سناریو تشریح کوي) کیدای شي چې دا د چوکاټ په پورتنۍ یا لاندینۍ برخه کې راشي.
- د کرکټرونو تر منځ خبرې اترې او یا د یو کس خبرې (مونولوګ) په لاندې شکلونو کې وښودل شي. مثال



- د کرکټرونو یا صحنې تشریح.
- د غږ اغیزې که د تطبیق وړ وي.
- تشریحات او کیسه باید لږ تر لږه ۳ مخه وي.

- د میاشت د تمدید کړنه :

- هر یو چوکاټ ته شمېره ورکړئ او بیا د ټولو مربعو، مستطیلونو او نور شکلونه چې په چوکاټ کې مو ترې استفاده کړې، شمېره وکړئ. ستاسو طنزي کتاب کې څو دانې مربع دي؟ آیا ویلی شئ چې څو دانې یې مربع، مستطیلونه او مثلثونه دي؟ ( اشاره: د یوې مربع ټول ځلور څولې لري او د اوږدوالي له لحاظه ټولې راسره مساوي دي. یو مستطیل ځلور ضلعې لري، خو یوازې مقابل لورې یې د اوږد والي له لحاظه مساوی دي. یو مثلث درې ضلعې لري. د کور په چاپېریال کې ماشومانو ته د دغه ځیزونو مثالونه ورکړئ).

**۱۰ دقیقې**



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

زده کوونکی به د هغه جوړې شوې کیسې تشریح د خپلو والدینو یا کورنۍ سره شریکې کړي. او د هغه لا ښه کېدو لپاره به فیډبک او وړاندیزونه تر لاسه کړي. زده کوونکي به

بیا دا فیډبک د لا ښې تشریح لپاره وکاروي.

## پنځمه ورځ

به تاسو خپله ظنزي ټوټه خپلې کورنۍ ته وړاندې کړئ.

وړاندیز شوي موده: فعالیت او توضیحات

**۱۰-۱۵ دقیقې**

زده کوونکی به هغه طنزي ټوټه یا لنډه کیسه خپلې کورنۍ ته وړاندې کړي چې د وړاندې کولو په وخت کې لازمه ده چې د صفاتو او فعلونو په ویلو باندې تاکید وکړي او یا

هم خپل غږ تغیر کړي.

**۱۰ دقیقې**

زده کوونکی به د ارایې او طنزي کتاب په اړه فیډبک د والدینو څخه تر لاسه کړي او خپل هنر ته به یې ور اضافه کړي. (چېرته چې ممکن ده).

**۱۰ دقیقې**

زده کوونکی به د ټولو هغه تمرینونو په اړه فکر وکړي چې په ټوله اونۍ کې یې ترسره کړي او دوه لاندیني څیزونه به نوټ کړي:

- تر ټولو مهم درس چې د دغه پروژې څخه مو زده کړی دی، څه دی؟
- څه شي تاسو ته موندل شوي چې ستونزمن، له معما څخه ډک او سخت دي چې پرې پوه شي؟
- ممکن د کومې پوښتنې به اړه ډېر بحث وکړی؟
- کوم شی د ستاسو لپاره په زړه پورې وو؟

## د ارزونې معیارونه



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

- طنزي کتاب باید لاندې معیارونه پوره کړي:

- کتاب باید لږ تر لږه درې پاڼې اوږد وي. د چوکاټ اندازه فرق نه کوي، مګر باید هندسي شکله وي.
- زده کوونکی باید داسې یو کیسه جوړه کړي چې پیل، ختم او یو پیغام ولري.
- زده کوونکی باید لږ تر لږ ۶ فعلونه او ۴ صفتونه په کیسه کې وکاروي.
- زده کوونکی باید کیسه په آخر کې وړاندې کړي.
- کله چې زده کوونکی کیسه وړاندې کوي، باید پر صفتونو او فعلونو تاکید وکړي.
- زده کوونکی باید په طنزي ټوټه یا کیسه کې صفتونه په آبي او فعلونه په سور رنګ سره ولکئ.
- زده کوونکی باید خپله کیسه په آخر کې وړاندې کړي.

## د غني کولو اضافي کړنې

د کیسې متن ته د خبر د نورو برخو اضافه کول لکه ضمیرونه، قیدونه، افضافي توري، د وصل توري او داسې نور.

سرچینه: https://www.kidsgen.com/comics/goldilocks-and-the-bears.htm




k:









https://www.thinglink.com/scene/838142613948203010:سرچينه

دریمه زمیمه



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
[https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7](https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7)

Source : https://picklebums.com/images/printables/picklebums_comicpages_big.pdf



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link: https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7